ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.2 2024

# د عبدالرحیم روغاني په شعري ټولګه سندریز احساس کښې حقیقت نګاري


- Inayat Ur Rahman[1]
- Riaz Ahmad[2]
- Dr. Ihsan Ullah[3]



Abstract:

*Abdul Rahim Rughani is a representative figure of modern Pashto literature. He made new experiments in Pashto poetry. He was born in 1950 in Durashkhila area of Swat. Five of your poetry books have been published. "Sandreez Ehsaas" is his poetry book, which was published in 2009. The book contains elements of realism, among other themes. In this paper, Abdul Rahim Roghani's poetry book "Sandreez Ehsaas" has been researched in the perspective of realism.*


عبدالرحیم روغانے د پښتو ادب د جدید دور یو ځانګړے شخصیت دے ۔ عبدالرحیم روغانے د خپل اسلوب د ځانګړي رنګ په سوب په ټوله پښتونخواه کښې نه چې په نړۍ کښې پېژندلے شي لکه چې د هغه د اسلوب او مضمون په اړه پروفېسر عطاءالرحمان عطاء وائي۔

"عبدالرحیم روغاني که پښتو شعر کښې په فني حواله کومې تجربې نۀ دي کړي خو د مضمون لفظیاتو او اسلوب په اړه ئې نوے نوے اجتهاد ضرور کړے دے او هغه څه ئې د پښتو شعر لمن ته وربخښلي دي چې د وخت ضرورت هم دے او د هغۀ د لهجې، اسلوب او فکر انفرادیت هم۔ عبدالرحیم روغانے د خپل دغه انفرادیت، اسلوب، لهجې او مضامینو په اړه د پښتو د نوي دوریو ژوندے، متحرک او قابل غور باب دے"[1]

عبدالرحیم روغانے چې خپل نوم ئې عبدالرحیم دے او روغانے ئې تخلص دے دا تخلص ئې د خپل قام سره د مینې په سوب ځان ته غوره کړے۔ د جنورۍ میاشتې په پینځلسمه نېټه په کال ۱۹۵۰ کښې د بر سوات په کوزه درشخیله چاقور نومې کلي کښې د عبېدالله کره زېږدلے دے چې د خپل کلي یوعالم او امام وو۔ پروفېسر عطاءالرحمان عطاء په خپل تجزیې کښې د هغه د پلار نامه عبدالله ورکړي ده خو دا نوم عبېدالله دے۔ د خپل زېږون په حواله هغه داسې وائي ۔

"زما نوم عبدالرحیم دے او روغانے مې تخلص دے په کال ۱۹۵۰ کښې د جنورۍ په ۱۵ تاریخ پیدا شوے یم او د پلار نوم مې عبېدالله دے د سوات کوزه درشخیله چاقور نومې کلے مې د پېدائش ځائې او په قام روغانے یم زما نیکونه د دیر نه راغلي دي او دلته اباد شوي وو"[2]

---

[1] PhD Research Scholar at Department of Pashto, University of Malakand
[2] MPhil Research Scholar at Department of Pashto, University of Malakand
[3] Visiting Lecturer at Govt Post Graduate Jahanzeb Collage, Saidu Sharif Swat.

عبدالرحیم روغاني ابتدائي تعلیم په خپل کلي کښې حاصل کړے د کورني مسائلو له وجې ئې د لسم جمات نه پس نور تعلیم نیمګړے پاتي شو خو بیا ئې وروستو په پښتو کښې پرائیوېټ ایم اے وکړو او ورسره ئې د استاذۍ پېشه اختیار کړه. د ژوند اخري کلونه ئې د مینګورې په ګل کده نمبر ۳ کښې تیرې کړې دي او په کال ۲۰۲۱ کښې د فروري میاشتې په ۲۴ نېټه د شپې په دولس نیمې بجې وفات شوے دے. هغه یو فطرتي شاعر وو او د وړوکوالي نه شاعري کوله په دې حقله هغه د جهانزېب کالج مېګزین ایلم ته په یو مرکه کښې وائي.

"چې څومره زما یاد شي نو د پینځم جماعت نه مې شعرونه لیکل شروع کړي وو".[3]

او داسې د وخت وخت سره هغه د خپل تخلیقي او ادبي زیار روان وساتلو او ګڼ شمېر تخلیقونه ئې مخې ته راغلل او دغه رنګ نن د پښتو د نوې شاعرۍ په تاریخ کښې د هغه خپل مقام دے تر اوسه د هغه پینځه شعري ټولګې چاپ دي چې په کښې نوې نغمه ، څوربدلي احساسات ، سندریز احساس، د رڼا څاڅکي، سندرې او خبرې. دې نه علاوه د هغه دوه د نثر کتابونه هم چاپ دي چې نومونه ئې کوربانه خیالونه او خودغرض دي.

عبدالرحیم روغاني چې په خپل ژوند کښې څومره هم شاعري تخلیق کړې ده نو په هغې کښې ګڼ شمېر موضوعات مخې ته راغلي دي لکه ترقي پسندي، رومانویت، انسان دوستي، امن خوښي، قام پرستي، علم دوستي، عقلیت، استدلالیت، طنزومزاح، پښتون ولي، حقیقت نګاري او داسې نور.

حقیقت نګاري چې په انګریزۍ کښې ورته ریالیزم وائي. حقیقت نګاري یا حقیقت پسندي د نوم نه معلومېږي چې د انساني ژوند سره نیزدې او حقیقي خبرې یا موضوعات بیانول. حقیقت نګاري د ژوند د حقیقي بڼې څرګندولو ته وئیلے کېږي نو په دې بنیاد چې هغه ټول ادبي اثار چې ژوند ئې په واقعي او رېښتنې ډول بیان کړے وي حقیقت پسند یا ریالیسټک بللے کېږي. حقیقت نګاري د یو تحریک نوم هم دے چې د رومانیت او سرمایه دار نظام په ضد مخې ته راغي په دې اړه ډاکټر نصیب الله سیماب لیکي چې.

"د ازادۍ په نامه چې کوم تحریک په اولسمه او اتلسمه پېړۍ کښې پېل شوے وۀ دا تحریک د سرمایه دار په ګټه تمامېږي او مظلومه طبقه په ژوند ادب او هنر کښې خپل واقعیت له لاسه ورکوي. د هم دې وجوهاتو له کبله د ریالیزم تحریک راپورته کېږي. ادب، سیاست، کلتور د ژوند واقعیت ته متوجه کوي د دې تحریک بنیاد بلزاک او د ده ملګري ږدي".[4]

د حقیقت نګارۍ مطلب هم دا وي چې ټولنیز حقائق ته توجه ورکړے شي او د ژوند ستونځې د معروض سره سمې په حقیقي بڼه کښې وړاندې کول چې په هغې کښې هیڅ خیالي او مثالي نړۍ تصور نۀ وي. په اکسفورډ ډکشنري کښې د حقیقت نګارۍ تعریف څۀ په دې ډول شوے دے.

"Practice of regarding thinks in their true nature and dealing with them as they are faddily of representation rendering precise detail of real things or sconce".[5]

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.2 2024

دغه رنګ په کشاف تنقیدي اصطلاحات کښې د حقیقت نګارۍ په حقله لیکي چې .

"ادب میں اشیاء، اشخاص اور واقعات کو کسی قسم کے تعصب، عینیت اور رومانیت سے الودہ کئے بغیر دیانت و صداقت کے ساتھ پیش کرنے کی کوشش حقیقت پسندی یا حقیقت نگاری کہلاتی ہے باالفاظ دیگر حقیقت پسندی یا حقیقت نگاری کو معنی ہیں خارجی حقائق (مثلاً سماجی زندگی اور اس کے مسائل کو حتی المقدور معروضیت کو ساتھ پیش کرنا، کسی خیالی یا مثالی دنیا کی بجائے ہست کی تصویر کشی، حقیقت پسند ادب تخیل پر امر واقعہ کو ترجیح دیتا ہے۔ ماضی کے بجائے حال کے مسائل اور معاملات کو اہم جانتا ہے چونکہ زندگی کی موضوعی تصویر کشی اس کا مقصود ہے۔ اس لئے وہ اپنی ذات کو ادب پارے میں نمایاں کرنے سے اجتناب کرتا ہے۔ وہ زندگی کے ایسے کراہت انگیز کوائف و مظاہر کو بھی موضوع بناتا ہے جن کا وجود مسلم ہوتا ہے۔ مگر نفاست پسند ادیب انہیں قابل اعتنا نہیں جانتے، وہ زندگی کو رنگین شیشوں میں سے دیکھنے کی بجائے اپنی ننگی آنکھ سے دیکھتا ہے اور اس کی کوشش ہوتی ہے کہ اسے جوں کا توں پیش کردے"۔[6]

سندریز احساس د عبدالرحیم روغاني شعري مجموعه ده چې په وړومبي ځل په کال دوه زره نهه کښې او په دریم ځل په کال دوه زره شپاړس کښې د زاهد بشیر پرنټرز لاهور نه چاپ شوې ده ـ د کتاب په وړومبي سر کښې حمد او نعت شریف په ترتیب سره ذکر شوې دي ـ دې نه علاوه په دې کتاب کښې ګڼ شمېر غزلونه ، نظمونه ، قطعې موجود دي او ورسره په کښې هائیکو هم نظر راځي ـ دغه شاعرۍ ګڼ موضوعات لري لکه رومانیت ، ترقي پسندي، قام پرستي، سائنسي شعور، حقیقت پسندي او داسې نور. عبدالرحیم روغانے یو حقیقت پسند انسان وۀ او هم دا وجه ده چې د هغه په شاعرۍ کښې د نورو موضوعاتو سره حقیقت نګاري هم په شد و مد سره موجود ده چې د نمونې په توګه ترې دلته څۀ شعرونه ذکر شوې دي.لکه چې وائي

د اخلاقو ښائست غواړم چې دا حسن حقیقي دے
په دې وجه هیڅ محتاجه زر، زرګر، زېور ته نۀ یم[7]

انسان هر څومره که ښائسته وي ولې بیا هم زوال لري ځکه چې د حسن یو دور وي کله چې انسان د دغه دور نه واوړي نو بیا د ده ښائست پیکه شي او زوال ته روان شي خو اخلاق د انسان داسې ښائست دے چې نۀ خو دې ته د زر، زرګر یا داسې بل قیمتي څیز هاجت پېښیږي او نۀ دې له هیڅ قسمه زوال شته بلکې دا یو داسې ښائست دے چې تر مرګه پورې انسان نۀ پرېږدي بلکې د مرګ نۀ وروستو هم انسان ژوندے ساتي او دا یو حقیقت دے چې روغانے ئې هم ستائینه کوي.

دا قانون د دې وطن دے چې قانون به ئې وي مات
حقداران په کښې هغه وي چې طاقت وي د چا زیات
د طاقت حکمراني ده د ځنګل قانون چلېږي
دلته هره محکمه ده محکمه ځنګلات[8]

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.2 2024

د پاکستان وطن چې کلې نه په وجود کښې راغلے دے نو دا یو تریخ حقیقت دے چې د هغه وخت نه تر دې دمه د ملک حالات هم څهٔ دې په دې ډول دي چې د چا طاقت وي بس هم د هغه حکومت وي او په هره اداره بس هم د هغه زور وي۔ نه خو غریب ته څوک د هغه حق ورکوي او نه هغه د دې خاورې وګړے ګڼلے شي، بس هم هغه "جس کی لاٹھی اسکی بھینس" والا نظام دے۔ او د دې قانون یا د دې نظام ذمه وار هم مونږ پخپله یو او دا غټان خلق دغه مقام ته رسولي هم مونږ دي خو روغانے د دې حقیقت نه سترګې نهٔ پټوي بلکې د شعر په جامه کښې ئې غندنه کوي۔ لکه چې په یو هائیکو کښې وائي۔

شو خوشامد مو روایت سپېځلے
اوس په نوم غټ ته زنده باد وایو
یو مرده باد د زنده باد د لاسه[9]

دغه رنګ د دې ملک دا حالات په یو بل شعر کښې بیانوي چې۔

که ژوند غوارم قتلېږم کهٔ ئې نهٔ غوارمه مرمه
په دوه کښې خوار اتباله راحصار شوم په ژړا شوم[10]

د دې نه علاوه په نړۍ کښې د ترقۍ تر ټولولوئې سوب علم او هنر دے که علم حاصل نهٔ کړے شي نو ترقي حاصلولے نهٔ شي بلکې د جهالت لارې به نورې هم سیوا کېږي ځکه خو خوږ نبي د قیامت په نښانیانو کښې یو نخښه دا هم خودلې ده چې علم به لږ کړے شي او جهالت به سیوا شي خلق به یو بل قتلوي۔ د دې نه مونږ ته دا معلومېږي چې علم د انسان د پاره ضروري دے که سو دے ترقي غواړي خو د ډېرې بدبختۍ له وجې پښتانهٔ د دې حقیقت نه سترګې پټوي خو د دې برعکس د مغرب قومونه په دې خبره پوره عمل کړے دے او هم دا وجه ده چې نن په ټوله نړۍ حکومتونه کوي لکه چې روغانے وائي۔

مغرب به ولې په قومونو حکومت نهٔ کوي
چې ئې د علم هنر زیار ته ادامه ورکړله
د خیال دنیا ئې تش په خیال پورې محدوده نهٔ کړه
بلکه هر خیال ته ئې د وسپنو جامه ورکړله[11]

په یو بل شعر کښې هم دغه خیال راوړي چې۔

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.2 2024

قومونه هلي ځلي کړي سيالي کړي بره خېژي
تهٔ پروت ئې پهٔ جمات کښې پهٔ خلوت کښې غزېدلے
ګڼلي چې دي سائنس ټيکنالوجي لهو لعب دي
خود ګرځه زما وروره شرمېدلے زيانېدلے[12]

مونځ ، روژه د دين اسلام ډېر اهم ارکان دي چې بنده له ډېرو ګناهونو نه منع کوي خو که دا ارکان په صحيح طور ادا نهٔ شي نو بيا ئې هيڅ فائده نشته۔ ځکه روغانے وائي

هيڅ اثر چې ئې په ذهن په زړهٔ نهٔ وي
داسې نمونځ ګورے کول لويه ګناه ده
چې نهٔ صبر نهٔ تقویٰ وي په روژه کښې
له خوړلو ئې نيول لويه ګناه ده[13]

قرآن کريم د الله تعالی داسې مکمل کتاب دے چې د نړۍ د هرې مسئلې حل لري ځکه خو رسول الله ﷺ فرمائيلي دي چې څوک قرآن کريم خپل کړي نو دے به چرته هم نهٔ ګمراه کېږي خو دا يو حقيقت دے چې مسلمانان په فرقو کښې تقسيم شوي دي نو په دې اړه روغانے وائي۔

اعمال او عبادات چې دي خداني دي پرمختګ ته
کېدے شي چې قرآن دې صحيح نهٔ وي اورېدلے
خدائے يو، رسول دي يو، کعبه يوه ده تهٔ يو نهٔ ئې
هم دا داسې نکته ده چې پرې ته ئې خوئېدلے[14]

انسان له الله تعالیٰ عقل ورکړے او د عقل سره ئې په کښې د محنت ماده پېدا کړي ده خو که څوک محنت نهٔ کوي او د وخت سره تګ نهٔ کوي نو دے پسمانده پاتې کېږي نو دا حقيقت چې څوک تسليموي نو هم هغه په ژوند کښې کامياب وي ځکه خو روغانے وائي،

جمود نخښه د مرګي ده، چرته ښکار د جمود نهٔ شي
حرکت کښې برکت دے، دغه ژوند دے که پوهېږې
حقيقت ته کهٔ فام اوشي، نو د ژوند پهٔ سائيکل سور ئې

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.2 2024

چې روان ئې نو محفوظ ئې، چې اودرېږې نو غورزېږې[15]

ډاکټران او پوهان د صحت مند ژوند په اړه د ورزش کولو ډېر تاکيد کوي او دا ريښتيا خبره ده چې چرته چې ورزش وي هلته به مرضونه نۀ وي لکه چې پوهان وائي چې د کوم علاقې ګراؤنډونه اباد وي د هغو هسپتالونه خوشي وي۔ دغه حقيقت ته روغانے هم څۀ دا رنګې اشاره کوي چې۔

هوښيــــاران بولي ورزش د ژوندون برخه
کړي ورزش که موسم ښۀ وي کۀ جپاړ وي
څوک چې زغل کړي مرضونه ترېنه زغلي
چـــې ولاړ وي هــر مـرض ورتـــه ولاړ وي[16]

په کور کلي يا خپل وطن کښې د امن ساتلو د پاره دا لازمي ده چې بنده ځان سره د حفاظت اوزار ساتي که دا نۀ وي نو بل انسان به ستا امن ته نقصان رسوي او ته به کمزورے پاتې کېږې هم په دې د روغاني دغه شعر د نمونې په توګه وړاندې کوم۔

امـــن هلـــه برقـــرار وي چـــې وي امـــن
د ځان هم ګورے خپل ځان ته ضرورت وي
پېـــغمبــــر بــــه هـــم ساتـــله توره زغره
د ايمـــــان سره ســـامـــان ته ضرورت وي[17]

دا يو حقيقت دے چې په ژوند کښې ډېر کارونه روپۍ کوي او چې دا نۀ وي نو انسان بيا سرګردانه وي۔
د غريب د پاره خالي جيب په بازار کښې ګرځېدل د قيامته کم نۀ وي نو روغانے هم دغه درد د غريب بيانوي چې

يو قيامت دے په هـر کلي په هر ښار کښې
دے وطـــن د مفلسانـــو په ازار کښـــې
دا جېکټ د خودکشۍ مې نۀ دے نو څۀ دے
چـې خـــالي جېبونه ګرځم په بازار کښـــې[18]

دې نه علاوه د روغاني په دې شعري مجموعه کښې بې شمېره شعرونه په نظر راځي چې د حقيقت پسندۍ رنګ په کښې په شدومد سره موجود دے څۀ چې د دې خبرې ګواهي کوي چې روغانے د خپل قام په درد دردېږي، دا قام په ترقۍ لېدل غواړي ځکه هغه د غم جانان په ځاے د غم دوران فکر کوي. لکه چې وائي

کـــۀ بـــاران مو د ګـولـو په سر وربـېږي
خو مـازغـۀ مـو نـۀ خـبرېږي نـۀ پـوهېږي
چې احساس ئې د ورورۍ او وحدت مړ شي
هغـه خـلـق پـۀ شـرمـونـو او شـرمېږي
خـود بـه ژونـد وي د ښـاروو د هغه خلقو
د ښـاروو شـان پـه ډالـرو چې خرڅېږي
حيثـيـت د هغـه خـلقـو بـه د سپـو وي
چـې د بـل پـه لمسـه سپو غوندې جنګيګي
چـا چـې يـو بـل له دې زړونه ايره کـړې
کـۀ ئـې اوګـورې ايـرې به ترې چنېګي
روغـانـــې نه عقل زده کړه چې عاقل شې
اکثـــر عقـــل د کـــم عقل نه زده کېږي[19]

يوه بله قطعه کښې وائي چې

خبـــر شه نۀ تسپو نۀ په چـېـله کـښـې تحفـظ دے
نرتوب نۀ شجاعت نۀ حوصلـه کـښـې تحـفـظ دے
حالات کۀ تپوسي نو دا جواب به ترې محسوس کړې
نن سائنس ټيکنالوجۍ او په وسله کښې تحفظ دے[20]

حواله جات:

---

[1] پروفيسر، ډاکټر، عطاء، عطاء الرحمان، تجزيې، ګران خپروندويه ټولنه، مينګوره سوات، جنوري ۲۰۲۳ء، مخ ۲۲

[2] روغانے، عبدالرحيم، مرکه، مخ په مخ، مينګوره سوات، ۴ جنوري ۲۰۱۹ء

[3] سکندر حیات، عبدالرحیم روغاني سره یوه ناسته مشموله "ایلم"، سوات جهانزیب کالج ، ۲۰۰۸ء، ۲۰۰۹ء، مخ ۶

[4] ډاکټر، سیماب، نصیب الله، د کره کتنې اصطلاحات، پښتو اکېډیمي، کوټه، ۲۰۱۳ء، مخ ۹۶

[5] The Oxford dictionary, Lahore, Oxford press, 1964, page 998

[6] حفیظ صدیقی، ابوالاعجاز، کشاف تنقیدی اصطلاحات، مرتب اسلام آباد، مقتدرہ قومی زبان، 1985ء، ص29

[7] روغانے، عبدالرحیم، سندریز احساس، ذاهد بشیر، پرنټرز لاهور، ۲۰۱۶ء، مخ ۹

[8] هم دغه اثر، مخ ۱۰

[9] هم دغه اثر، مخ ۱۵

[10] هم دغه اثر، مخ ۱۶

[11] هم دغه اثر، مخ ۱۲

[12] هم دغه اثر، مخ ۱۸

[13] هم دغه اثر، مخ ۱۷

[14] هم دغه اثر، مخ ۱۸،۱۹

[15] هم دغه اثر، مخ ۵۶

[16] هم دغه اثر، مخ ۸۳

[17] هم دغه اثر، مخ ۹۶

[18] هم دغه اثر، مخ ۹۹

[19] هم دغه اثر، مخ ۱۴۰

[20] هم دغه اثر، مخ ۱۶۴